مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید ر
۲۰۲۴/۰۱/۰۶

# ناکامه هیله



دایوه میاشت کیږي چې زه دلته داوړي د رخصتیوپرلامل له برلین څخه راغلی یم ، دلته پردعه ساحل باندې اوسم، هرڅه مې هیرکړي یوازې باید آرام وکړم، په هوټل کې مې دکوټې کړکۍ هم د سمندراوړدو اولنډوته مخامخ ده ، ټوله ورځ ورته ګورم خوپه دغولیدومې هم سبړه نه کیږي راوځم اوترډیروپورې دلته اوهلته ګرزم او راګرزم اویوازې څپوته ګورم چې څه چم اوخم اوشوراوشرنګ دساحل پرلور راځي اودلته بیا ستړې ستومانه ځان وغوړوي ...

په لومړیو کې خومې دومره فکرنه و، خواوس مې چې رخصتي ترنیمایی اوښتې په دغوورځوکې هرسهاردلته یوڅوک ددغه ساحل دڅپو په وړاندې ګورم ، زه یوې اوبلې خوا ته وګرزم را وګرزم ، ستړی ستومانه بیرته دده څنګ ته راغبرګ شم،خودی لاهم ولاړوي اوسترګې یې یوازې اویوازې د سمندرپه څپوکې کښته اوپورته رغړې را غړې ... داسې چې زما دښکالوهم پروا نه کوي اوپه خپله کې ډوب تللی وي ...

له دوو دریو ورځو را په دیخوا یې زه هم دڅوشیبوله پاره په څنګ کې ودرېږم ،خودی بیا یوازې دیوې شیبې له پاره زما پرلوررا وګوري اوبیا بیرته خپل کاته دلوی سمندرد څپولمنې ته درانه درانه ورواچوي اوورته ګوري ...

زه ده ته په کتلوکتلوسره ستړی شم، ترې روان شم، خو دی بیاهم نه پوهیږي اونه فکرکوي چې زه یې په څنګ کې یم که نه .... نه پوهیږي چې یوڅوک داځوورځې دده دا د سمندرپه څپوکې ډوب حالت له لرې څاري اوڅاري ... زه ترې روان شم ، خودی لاهم ولاړوي، هو، ترډیروپورې ولاړوي ، او یوازې یې دڅپو هسکواوټیټوته سترګو غیږې ورکړې وي، خوزه که څه هم دی نه پوهیږي بیاهم دده له دغه حالت سره خپلې کوټې ځان راورسوم دهوټل په لاندې پوړکې خپله ښه سهارنۍ هم وخورم، له ناستوکسانو،سره اوږدې خبرې وکړم، بیرته چې کوټې ته راننوزم اودکړکۍ پرده پریوه خوا کړم، ګورم چې دی لاهم ولاړوي، لاېې هم کاته له څپوسره ځې اوراځي... زه له ځان سره وغږمبیږم ،

-اوه، دی خوتراوسه پرهم هغه یوه ځای ولاړ دی ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زه نن سهارترناوخته پورې ورته انتظارشوم ځومعلومه کړم چې دی ترکله په همدغه حالت کې له ځپوسره همداسې ایل وغیل ولاړدی ... لمرله لوړو لوړو اوس دسمندرپرسردریدلی وچې دده انتظاراوکاته پای ته ورسیدل، ده هم دهوټل پرلور رامخه کړه ، اوما ترهغووخاره ترڅوچې دهوټل پرلویه دروازه را ننوت، زړه ته مې ورسیده چې ګواکې دی هم په همدغه هوټل کې دی ...

***

ورځ مې هم نن ټوله همداسې په دغواوهغوباندې تیره کړه، ما ښامنۍ ته لږ زر ورووتم، ځکه چې ما غوښتل هلته تردیروپورې کینم، کیدای شي،هلته د ما ښامنۍ پرسرسره وګورو، ماهوډ کړی وچې کله یې ووینم خامخا به ورسره میلاویږم اودده دغه ناسپړلی رازبه خامخا که شونی و را سپړم... هرسهارترختودمخه دلته راتګ... مخامخ له دغولیونیوځپوسره خپل کاته مل کول ...

ښایسته وخت له ماښامنۍ وروته نورهم هلته پاتې شوم، ترنورو شپومې نن ډوډۍ هم ډیره وخوړه، نورپه ناستوناستوستړی شوم، غوښتل مې چې ځان خپلې کوټې ته ورسوم، د رستورانت له دروازې د وتوپه حال کې وم چې له خپلې اووه کلنې لمسۍ اومیرمنې سره په رستورانت دری واړه را ننوتل، په عمرپوخ، لوړقدی، لنډکې ږیره، دمیرمنې یې هم شرقي ټکري پرسراولمسې په لویدیزدود سمباله خوږه خندنی نجلی ....

مخا مخ بفې ته ورغلل ، ډوډۍ یې سره را واخیسته، دری واړه پر یوه میزسره کیناستل، کله چې دوی بفې ته وردیدل ما هم یوځه نورخواړه په دې خاطرچې له دوی سره ایل غیل شم دځان له پاره راواخیستل،که څه هم دهوټل کارسونې میرمنې په ځیرځیرراته وکتل خوما یې ډیره پروا ونه ساتله، کله مې چې ډوډۍ رااخیسته ، زه هم دوی دری واړو ته په مخامخ میزباندې کیناستم، روغبړمې ورسره وکړ، دوی هم په خورا ورین تندې ځواب راکړ، ځکه خومخامخ ورته کیناستم، خاوند اومیرمنه دواړه په عمرپاخه ښکاریدل، ما ځان ورووپیژاند اود خپل راتګ موخه مې ګرده ورته وویله، ما اوریده چې دوی له ماشومې سره په روانه پښتوخبرې کولې، ما چې څه موده په افغانستان کې تیره کړې وه اولږ په ماته ګوډه پښتوپوهیدم ، خبرې مې ورسره پیل کړې، راته خوشاله شول، اوزما پښتوخبرې ښې پرې ولګیدې ، له مایې وپوښتل :

-دکوم ځای یې ؟

ما ځواب ورکړ،

-دجرمنی ،

بیا یې په جرمني خبرې راسره پیل کړې :

-پښتودې چیرې اوځنګه زده کړې ؟

-په افغانستان کې مې کارکاوه ...

-چیرې ؟

-په کندهارکې ،

-څه کاردې کاوه ؟

-عسکروم ،

زرمې دخپل پتلون پایڅه پورته کړه اوخپله مصنوعي پښه مې وروښوده ...

-داهم په کندهارکې ؟

-هو، افسوس ، هلته داکارشونی و،

مالړنوره هم پښه ورته پورته کړه ، اواصلې خبره مې ورته وکړه :

-زه افغانانونه یم ویشتلی، پرموږ د امریکایانوالوتکوبمونه واچول، له لسوپنځلسو تنویوازې موږ دوه تنه ژوندي خوګوډ ومات پاتې شوو ...

زموږخبرې اوږدې شوې، دوی ته زه جالب ښکاره شوم او دوی ماته، خودا راته معلومه شوه چې دوی افغانان دي اوکلونه مخکې جرمني ته راغلي دي، ماشومه لمسۍ یې سمه صافه جرمنه پښتنه ښکاریده، ان چې ترما یې هم په جرمني ژبه ښې خبرې کولې، دوی له هامبورګه راغلي ول اوزه هم له برلین څخه ...موږ دواړه دیوې جګړې له درده درمن شوي وو، دوی له وطنه را تښتیدلي وواوزه بیا د دوی د وژلواوړنګولوپه خاطرهلته استول شوی وم، ځکه خومو درد یو درد و ...

زموږ خبرې رواني وې، ماشومې ته خوب ورغی، میرمنې ته یې وویل چې هغه کوټې ته بوځي، خو زه او دی دواړه پاتې شو، په داسې حال کې دچایوپیاله مې ورته ډکه کړه، وروموی پوښتنه ترې وکړه :

- هرسهارد سمندرځپوته په شیبوشیبو ګورې، کولای شي لامل یې راته ووایې؟

دی وارد واره راته ځیرشواو ترخوله یې راووتل :

-ته څه پوه شوې چې زه هره ورځ دسمندرځپوته کتل ننواتې کوم ...

-زه داخو ورځې تاګورم ، زمادکوټې ګړکې سمندرته مخامخ ده، زه له هغه ځایه ستا اوږده خوله حیرانتیا ډکه ننداره کوم ...

را ته په سوچ کې شو،سترګې کښته واچولې، ځوشیبې یې ځان آرام ونیو... راته موسکی شو،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

-زما سمندرخوښیږي، دهغه ځپې مې خوښیږي ځکه خودهمدغې لیونۍ مینې په خاطرزه هرکال دلته راځم اوپرده ساحل باندې هرسهاراوماښام ترډیرو پورې دریږم اودهغودمستیوننداره کوم ...
که رښتیا ووایم باورخومې پرونه شو، خوداوس له پاره مې دده همدغه غه لنډ اوګنډ لامل ومانه ...
شپه ناوخته شوې وه چې زه اودی هم دخپلوخپلوکوټوپرلورو خوځیدواویوه بل ته مو ښه شپه ، آرامه شپه وویله ...

*****

سهاروختي چې لاپه درانه خوب ویده وم ، زما د دوست تلیفون راغی، زما دحال اواحوال پوښتنه یې وکړه، ګپ شپ مو سره ولګاوه، مطلب داچې زما خوب یې د باد وزرکړ، چې خبرې موخلاصې شوې، لاس مې دکټ له سره پردې ته ور ووړ، هغه مې یوې خواته کړه، سمندرته مې وکتل، چې لا یی اوږدې او لنډې ځپې د تیارې له غیږې نه په مستیوسره هځیدلې اوخوځیدې ... لاندې ته ځیرشوم چې نوی افغان دوست مې بیا لکه دپخوا په شان دسمندرځپوته مخامخ ګوري، سره له دې چې تیاره ده خوماته ښکاري چې پردغه ځای له ده پرته بل ځوک نه دریږي اونه بل چا دده په شان سترګې ددغوځپوله هسکواوټیټوسره عادت کړې دي، سرمې بیرته پربالښت کیښود، په سوچ کې ولاړم، اوس مې له ده سره آشنایي هم وشوه، بیالاهم خبره راته روښانه نه وه ...
په همدعه سوچ کې پورته شوم ، په مخ اوخوله مې څه اوبه سره ورغړولې، دچای وخت شوی و، کوز پوړته دچای ځښلوپه مخه ولاړم خو نیت مې داو چې چای به ځښم اوبیا به مخامخ ورځم اودده دننداري ننداره به کوم، کله چې چای اخیستوته ورغلم ومی لیده چې وړه نجلۍ اوانا یی هم پرچا ځښلووې، زرمې چا ی واخیست، بیا ددوی ځنګ ته ورغلم، له نجلۍ مې په جرمني کې دبابا پوښتنه وکړه :
-بابا دې ویده و؟
-نه هغه لمونځ وکړ، بیا ولاړچې دساحل پرغاړه دسمندرځپې وګوري، اوکه پاک الله مهربانه شي زما کاکا اومیرمن یې د سمندرله تله را وباسي اوموږیی مړي په خپلو سترګو ووینو ...
-کاکادې او دسمندر ....
-هو، په هغه بیړۍ کې چې دی راته هغه تیرکال په همدغه سمندرکې ډوبه شوه ...
ددغې خبرې په اوریدوسره می سرراباندې وڅرخیده ...
چای مې ځای پرځای پریښود، مخامخ بیرته په لفټ کې خپلې کوټې ته وختم، ټول بدن مې لړزیده... دکړکۍ پرده پورته وه ، هغې خواته مې وکتل چې شپېته کلن دنګ افغان لاهم هغسې ولاړدی، لاهم دخپل ډوب شوي زوی اونګوردورک سفرلارې ته سترګې په لاردی، دواړه لاسونه یې په همدغه شنه سهارکې دالله درباره ته لپه کړې دي ...
ځان مې دځوشیبوله پاره په خپل کټ کې آرام ونیو، خپل ځان را په یاد شو، هغه شیبه را په یاد شوه چې امریکایی الوتکوبمونه را باندې واچول، نیمه پښه مې نږدې لس متره له مانه هغې خواته پرته وه، اونه می شوای کولای چې ترهغې پورې ځان ورکش کړم ...
داهرڅه مې ددغې افغانې کورنۍ په دغه غم کې له یاده ووتل، بیامې پرده پورته کړه ومې لیده چې نا هیلی افغان بیرته هوټل ته را ستون شوی، کټ ځای را نه کړ، بیرته دهوټل لاندې پوړته ورکښته شوم ، زما دچایوپیاله لاهم پرمیزباندې ایښې وه، اوپرمخامخ میزباندې هم څوک نه وو، بیامې ځانته چای را واخیست، دشونډو په سرومې وڅیښ، غوښتل مې بیرته دخپلې کوټې پرلورپورته وخیژم ...
زه لا لیفت ته نه وم ورسیدلی چې افغانه کورنۍ له خپلوبکسونوسره له لفټ څخه را ووتل ... پوښتنه مې ترې وکړه:
-لکه روان یاست ؟
دکورمشر، چې پوهیدم سترګې اوس هم له اوښکې ډکې وې را ته کړه :
-هو، یوه اوونۍ مو درلوده، نورنوباید ولاړ شو ...
-ماشومې چې زماسهارنۍ حال لیدلی و، په ځیرراته وکتل :
-ته خوسهارچې همداسې ولاړې بیا رانه غلې، چای دې هم سوړشو ..
په مې یې لاس کیښوداو ځواب مې ورکړ :
-هو، اوس راغلم ، خوبیا تاسې نه وئ .
مشرخدای پامانی راسره وکړ، په غیږکې مې ونیو، زړه مې له سهاره تراوسه را ډک شوی و، هغه مې په ژړا ورسره تش کړ، ښه مې ورسره وژړل، په ژړا ژړا کې یې یوازې یوه جمله ترخوله راووته :
- دادویم کال دی چې زه دلته راځم ...
زه اوس دده په درد پوه شوی وم، بکس مې ورسره ونیواوترټکسي پورې ورسره بدرګه شوم، خدای پامانی مې ورسره وکړ، بیرته په ماته پښه اومات زړه خپل کوټې ته راپورته شوم ...
دکړکې پرده مې بیا پریوه خوا کړه، ځپې اوس هم په مستۍ تلې اوراتلې، دافغان آشنا ځای ته مې وکتل، را یاده شوه:
- اوکه پاک الله مهربانه شي **زموږ هیله** ومني چې زما کاکا اومیرمن یې د سمندرله تله را وباسي اوموږیی مړي په خپلو سترګو ووینو ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوره لس ورځې نورهم زه هلته پاتې شوم ، دده دنده ماته را پاتې شوې وه، هرشیبه به مې دڅپوغیږو ته کتل، هغه درد چې دوی په خپلوافغاني زړونوکې درد ما په خپل جرمن زړه کې هم احساساوه اولونیوڅپوته به مې چې وکتل دماشومې جملې سره وخوځولم :

**- اوکه پاک الله مهربانه شي زموږ هیله ومني چې زما کاکا اومیرمن یې د سمندرله تله را وباسي اوموږیې مړي په خپلو سترګو ووینو ...**

ادمنتون - کانأدا

د ۲۰۲۳ کال نومبر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ